
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر

۲۰۲۶/۰۶/۱۹

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(نولسمه برخه)



(د بلوڅو اتل، شیهد اکبر شهباز خان بُګټي، (۱۹۷۰ز. لسیزه) او د ژوند وروستي کلونه)

**پنجابي پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۱۵)**

**د جنرال پرویز مشرف جنایتونه: (د اکبر خان بلوڅ[1] ترور، ۲۰۰۶ز)**

جنرال مشرف د خپلې واکمنۍ پر مهال، نه یوازې په افغانستان کې خپلې شومې کړنې ترسره کولې، هممهال یې په پښتونخوا، بلوچستان، سېند او پنجاب کې هم خپل خونړي ترهګر برېدونه، پر خپلو سیاسي او عقیدوي مخالفینو باندې، په خلاص لاس تر سره کول او د پاکستان پیاوړي او ډېر مهم سیاستوال یې ترور کړل، ښه به وي چې د مشرف پر هغو سیاسي او ترهګریزو وژنو رڼا واچوو چې د ده په امر ترسره شوي دي. لومړۍ، په بلوچستان کې د بلوڅانو د توریالي او مبارز مشر، **محمد اکبر خان بُګټي** ترور:

له هغې ورځې چې پاکستان جوړ شوی دی پاکستانیو چارواکو د بلوچستانو او پښتنو قبایلو سره د انګرېز استعمار په څېر چلند غوره کړی دی، د پاکستان حکومتونو بلوڅان او پښتانه په فقر، نېستۍ او بې سوادۍ کې ساتلي دي. د بلوچستان او پښتنو په کلیو او لرې پرتو سیمو کې د زده‌کړو او تعلیم په برخه کې مرسته نه ده شوې. د پاکستان حکومتونه د بلوچستان د ګازو او نورو زېرمو استخراجوي خو بلوڅانو ته یې ډېره لږه ګټه رسیږي، تر دې چې په ۱۹۷۶ز. کال کې د پاکستان د اټومي پروګرام بنسټ، د بلوچستان په کوټه کې کېښودل شو چې د یورانیمو د بداینې څواک یې تر لاسه

[1]: اکبر شهباز خان بګټي د ۱۹۲۶ز. کال د جولای په ۱۲مه نېټه په ډېره بګټي (اوسني بلوچستان) کې زېږېدلی ؤ، هغه د بلوڅو د بګټي قبیلې مشر، محراب خان بګټي زوی او د شهباز خان بګټي لمسی ؤ. اکبر خان د لوړو زده کړو خاوند او سیاستوال ؤ، هغه د خپل پلار له مړینې وروسته د خپلې قبیلې مشر وټاکل شو. اکبر خان بګټي د پاکستان د کورنیو چارو وزیر او د بلوچستان د ایالت د والي په توګه دندې ترسره کړي دي. نوموړی د فیروزخان نون په کابینه کې د پاکستان د دفاع وزیر هم پاتې شوی ؤ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کړ او په ۱۹۸۹ز، کال کې (وروسته له هغې چې هند لومړنی اټومي ازموینه ترسره کړه) څو ورځې وروسته **پاکستان د بلوچستان د (چاغۍ) په غرونو کې اټومي ازمایښتونه وکړل او د پاکستان د اټومي وسلو خطرناک پاتې شوني یې د بلوچستان په دښتو کې ښخ کړل چې له امله یې د بلوچستان سیمه ککړه او خطرناکه کړه.** دا او ډېرې نورې د پاکستانیو چارواکو استثماري او استعماري کړنې د دې لامل شوې چې بلوڅان وسلې ته لاس کړي او د پاکستان ځواکونه له خپلې سیمې وشړي، د بلوڅانو د پوځ **(بلوچ آرمي)** په نوم د پاکستانیو ځواکونو پر وړاندې راټول او منظم شي **چې په غبرګون کې پاکستاني پوځ په تېرو څو لسیزو کې د بلوڅانو پر وړاندې خورا سختې ترهګریزې کړنې ترسره کړې، د بلوڅانو مشران او په زرګونو عام بلوڅان یې نیولي، شکنجه کړي، وژلي او مړي یې په تېزابو او چونه کې سوزولي دي، بیا یې په اړوندو سیمو کې غورځولي چې د وژل شویو بلوڅانو د مړیو پېژندل ناشوني کیږي.**

د بلوڅانو د سرتېرو یو لاربنود، **نواب اکبر خان بُګټي** د بلوچستان د بګټي قبیلې او د وطن ګوند مشر د پاکستان له حکومتونو څخه د بلوڅو د حقونو غوښتنې کولې، «په ۲۰۰۵ز. کال کې اکبر خان بګټي پاکستاني حکومت ته پنځلس غوښتنې وړاندې کړې چې په غوښتنو کې د بلوچستان ایالت پر طبیعي زېرمو د زیات واک ترلاسه کول او د پوځ د پوځې اډو د جوړولو درول شامل وو.»[2] **خو پاکستانیو چارواکو او جنرالانو د دوی پر غوښتنو ملنډې وهلې** چې د دغو جنرالانو له ډلې یو هم جنرال مشرف ؤ چې په لوی لاس یې د بلوڅانو مشر اکبر خان بګټي، د پاکستان پر وړاندې پورته کړ. پایله کې «په سیمه کې د پاکستان د پوځ پر ضد د وسلهوالو بریدونه زیات شول چې په ۲۰۰۵ز. کال کې پر یوې چورلکه باندې برید ترسره شو او د پاکستان د سرحدي ځواکونو د قول اردو قوماندان په کې ټپي شو.»[3]

د پاکستان پوځ د بلوڅانو پر بګټي قبیله برید وکړ، د بګټي قبیلې سپین ږیرى مشر اکبر خان بګټي ویلي وو چې پوځیانو د هغه ۶۲ کسان وژلي دي، کیدى شي ۲۰۰ یا ۴۰۰ بلوڅان نور هم ووژني، ښایي ما هم ووژني خو نه شي کولی ټول د بلوڅو قوم له منځه یوسي. اکبر خان بګټي وویل: **هغه مهال چې بلوڅو د پاکستاني پوځ پر یو کاروان برید وکړ، د ډزو پر مهال، په سیمه کې ۳۲ تنه بلوڅان د پاکستانیو ځواکونو له خوا ووژل شول. پاکستانیو پوځیانو په خپلو تبلیغاتو کې وویل:۳۲ تنه هندوان یې وژلي دي.**

ځوک چې د پاکستان پر وړاندې پورته کیږي پنجابیان هغوى ته هندوان وایي، پنجابیان تور لګوي چې له بلوڅانو سره هند مرستې کوي، پنجابیانو دا ډول تورونه په افغانستان باندې هم لګولي دي، **په داسې حال کې چې پنجابیان هندوان وو، دا پښتانه وو چې دوی یې مسلمان کړل.**
د پاکستان د پارلمان او ځینو ګوندونو ۱۵ تنه غړي د اکبر خان بګټي سره د پخلاینې په موخه د بلوچستان ډېره بګټي ته ورغلي وو، دغو کسانو غوښتل اکبر خان بګټي له پاکستاني حکومت سره جوړجاړي ته راضي کړي خو هغه په جدي توګه وویل:**«دا ځمکه زما ده، هغوى هیڅ حق نه لري په دې ځاى کې پاتې شي.»**
اکبر خان بګټي د پاکستان پارلمان بې واکه وباله ویې ویل:**«د پاکستان واکمن، پرویز مشرف (چې د پوځ قوماندان هم دی) زموږ د خلکو قاتل دی، د هغه دولت بې له یو استثمارګر حکومت بل څه نه دی، ولې له هغوی سره خبرې وکړم.»**[4]

وړاندې له دې د پاکستان د مسلم لیګ ګوند، د بلوچستان لپاره ځینې امتیازات منلي وو چې تر یوه ځایه د بلوڅانو آزادي په کې وه خو جنرال مشرف ونه منله.
د پاکستان ځینو پوځي او استخباراتي ادارو او د جنرال مشرف سلاکارانو هغه ته مشوره ورکړې وه چې له بلوڅانو سره د مذاکرو له لارې مشکل حل کړي خو برعکس **«د پاکستان پوځي سالاکارانو، مشرف ته وویل چې د بلوڅانو مشران له منځه یوسي چې سرېبره پر محمد اکبر خان بګټی، سردار عطاالله مینګل او خېربخش مري، هغه مشران وو چې باید ووژل شي.»**[5]

---

[2]:: http://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/4531546.stm

[3]: هماغه

[4]:https://www.bbc.com/persian/news/story/2005/03/050324_si-balochistan-pakist

[5]:https://www.bbc.com/persian/worldnews/story/2006/09/printable/060901_s-pak-nationalits-conflict


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

بل خوا «د بلوڅو د مسئلې په اړه د جنرال مشرف ناپوهي، په وړو ایالتونو کې د بېلتون او پردیتوب د احساس له زیاتېدو سره د هغه ناپامي او د تېر کال [۲۰۰۵ز.] په ډسمبر کې د بلوڅ یاغیانو له خوا د ولسمشر پر چورلکه برید، ټول هغه عوامل وو چې د بګټي د وژلو په پرېکړه کې یې اغېز درلود.»[6]

**په پای کې دغه ۷۹ کلن سپین‌ږیری اتل، محمد اکبر خان بګټي د ۲۰۰۶ز، کال د اکتوبر په ۲۷مه نېټه د مري بمبور په غرنۍ سیمه او هغه سمڅه کې چې له هغه ځایه یې بلوڅ سرتیرو ته لارښوونه کوله، د خپلو ۳۵ سرتېرو او دوه تنو لمسیانو سره، د جنرال مشرف په یو هوایي برید کې ووژل شو.**

وروسته د پاکستان پوځ رسنیزې ډلې هغه سمڅې ته ورسېدې چې اکبر خان بګټي په کې وژل شوی ؤ. د پوځ انجنیرانو د سمڅې کنډوالې پاکې کړې خو د اکبر بګټي او نورو هغو کسانو مړي راوباسي چې د سمڅې دننه وژل شوي وو.[7]

د ۲۰۰۶ز. کال د اګست په ۳۱مه نېټه د اکبر خان بګټي جسد وموندل شو. هغه د خپلو سترګیو (عینکو) او د رولکس لاسي ساعت له مخې وپېژندل شو چې هغه د همدغه ساعت د کارولو له امله مشهور ؤ، د هغه عینکې، امسا او ساعت خبریالانو ته وښودل شول.[8] د ۲۰۰۶ز. کال د سپټمبر په لومړۍ نېټه، بګټی د بګټي په دره کې، د خپل زوی او ورور د مړیستون ترڅنګ، په یوه مهر او لاک شوي تابوت کې خاورو ته وسپارل شو.[9] د هغه کورنۍ چې غوښتل یې په کوټه کې د اکبر خان لویه جنازه ترسره شي، د ښخولو په مراسمو کې ګډون ونه کړای شو.[10]

جنرال مشرف د محمد اکبر خان بګټي له وژلو وروسته وویل:**«هغه یو ترهګر ؤ او ووژل شو.؟!» په داسې حال کې چې جنرال مشرف په خپله یو دولتي ترهګر ؤ او د آزادی غوښتونکو یو سپین‌ږیری مشر یې ترور کړی ؤ.**

د اکبر خان بګټي د شهادت په غبرګون کې د پاکستان په ډېرو ښارونو، په ځانګړي توګه په کوټه کې پراخ لاریونونه او ډېرې ګډوډۍ رامنځ ته شوې، زرګونو کسانو لاریونونه او نیوکې وکړې، د دغو قهریدلیو خلکو له خوا، ګڼ شمېر موټر وسوځول شول او ځینې دوکانونه هم لوټ شول. پولیسو د دولتي ودانیو د ساتنې په موخه د کوټې په ښار کې له درې زرو ډېر پولیس ځای‌پرځای کړل.
**په پېښو کې د بلوچستان، سند او پنجاب په ایالتونو کې چاودنې هم وشوې چې له امله یې یو شمېر کسان وژل شوي او لسګونه نور ټپیان شوي دي.**[11]

---

[6]:https://www.bbc.com/persian/worldnews/story/2006/09/printable/060901_s-pak-nationalits-conflict
[7]: https://www.dawn.com/news/208345
[8]:https://www.arabnews.com/node/279872
[9]: د اکبر بګټي د کورنۍ غړي او د بګټي قبیلې ځیني وګړي په دې باور دي چې هغه جسد چې په ډېره بګټي کې خاورو ته سپارل شوی و، د بګټي نه ؤ.

[10] :http://news.bbc.co.uk/1/hi/world/south_asia/5304594.stm

*[11]: سخنگوی ارتش پاکستان: جسد اکبر بگتی فردا دفن خواهد شد. (ایرنا WWW.IRNA.IR)*


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ



هغه سمڅه چې اکبر خان بګټي او ملګري یې په کې شهیدان شول. (bbc.com/urdu)

جنرال مشرف په دې اند ؤ چې نړیوالو او د بلوڅانو نورو قومونو ته اکبر خان بګټي یو ترهګر او ناوړه کس وروپېژني خو د اکبر خان وژل د مشرف د هیلي خلاف، داسي څه وو چې له اکبر خان څخه یې شهید او یو اتل جوړ کړ او مشرف یو قاتل او دولتي ترهګر وبلل شو چې دا دواړه به په تاریخ کې ثبت شي. په دې اړه د پاکستان وتلي ورځپانه لیکونکی **احمد رشید** لیکي:«د نواب اکبر بګټي وژل کیدل او هغه لاره چې نوموړي په خپل ژوند کې غوره کړې وه، **هغه د پاکستان د بلوڅ ملتپالو لپاره په یو (شهید او اتل) بدل شوی دی. دا د هغه انځور خلاف دی چې اسلامآباد غوارې له بناغلي بګټي څخه یې وړاندې کړي او هغه د دولت ضد یاغي او یو وروسته پاتي قبایلي مشر وبولي**، د سردار نواب اکبر بګټي په وژلو سره، ولسمشر پرویز مشرف اوس له یوې تلپاتي دښمنۍ سره مخ شوی دی، نه یوازې د بلوڅو د یاغیانو له لوري، بلکې د هغو بلوڅانو له خوا هم چې له پوځ سره جګړه نه کوي خو لا هم د خپل ایالت د نه پرمختګ له امله له اسلامآباد حکومت څخه خوابدي دي.»[12]

مشرف د بلوڅانو دښمني د پاکستان، په ځانګړي توګه د پنجابیانو لپاره په لوی لاس رامنځ ته کړه چې دا دښمني به هغه مهال پای ته ورسیږي چې پاکستان دړې وړې شي او پښتانه او بلوڅ خپلواک شي.



(د شهید محمد اکبر خان بګټي لمسی او ځای ناستی براهمداغ بګټي)

د محمد اکبر خان بګټي لمسی **براهمداغ بګټي** د پاکستان له حکومت سره په مېړانه جګړیږي، هغه په خپله یوه مرکه کې ویلي ؤ چې د پاکستان سره یې تړاؤ پرې شوی او یوازینی ارمان یې د بلوچستان د یوه خپلواک حکومت جوړول دي.
براهمداغ بګټي د پاکستان له (آج) ټلویزیون سره په مرکه کې ویلي وو چې که د بلوچستان د آزادۍ لپاره هر هېواد، هند، امریکا او ملګري ملتونه مرستې کوي، لبیک ورته وایې.[13]


جنرال مشرف د محمد اکبر خان بګټي په وژلو سره **(د خپل پدري بادار، انګریز په څېر جنایت تکرار کړ)** انګریزانو په ۱۸۳۹ز. کال کې پر افغانستان تېری وکړ د کابل او کندهار له نیولو وروسته انګریز جنرال **(ویلشایر)** د بولان له لارې د بمبې لښکر سره پر بلوچستان راوګرځید، د بلوڅانو مشر **میر مهراب خان** یې وغولاوه او په ټګۍ سره یې شهید کړ. **د محراب خان له شهادت وروسته د هغه زوی میر نصیر خان د انګریزانو سره سختې جګړې وکړې، یو تن انګریز**

[12]:https://www.bbc.com/persian/worldnews/story/2006/09/printable/060901_s-pak-nationalits-conflict
[13]: https://www.ndtv.com/world-news/pak-claims-india-backing-baloch-militant-group-392545?utm_source=chatgpt.com


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**افسر(لبدین) یې ژوندی ونیو، د سپي په کاسه کې یې له سپي سره یو ځای ډوډۍ ورکوله... هغه یې په بې کټې اوښ باندې له ځان سره ګرځاوه او په پای کې یې د خپل پلار په غچ کې وواژه.**

محمد اکبر خان بګټي د ۷۹ کلونو په عمر د خپل ولس د آزادۍ په لاره کې شهید شو چې په تاریخ کې به یې نوم د یو اتل په توګه په زرینو کرښو ولیکل شي، شهید بګټي په دواړو نړیو کې سرلوړی دی، په دې نړۍ د یو رښتني اتل په نوم یادیږي او په هغه نړۍ کې د شهادت مقام لري.



(شهید اکبر خان بګټي)

**سپینه ږیره مې په مخ، لا مې زړه ځوان دی**
**لا په توره د میدان د ننګ کاروان دی**
*******
**سپینه ږیره که په مخ شوه څه پروا ده**
**لا مې توره د دښمن په وینو سره ده**
(خوشال بابا)

نېټه:۱۴۰۵/۳/۲۸ل. ل

د ښاغلي محمد انور اخڼ نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ